

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مينه او تېل

## نِزار قباني

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مینه او تېل**

نِزار قباني

ژباړه:ویاړ

سمون:زیړ افغان

برېښنايي خپرېدنه: تله ۱۴۰۳

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ


ځو خبرې ........................................................ ۱
د نزار قباني فکر او اند........................................ ۳
تښتوونکي..................................................... ۱۱
د تاریخ ښوونکی چا ووژو؟................................... ۲۰
د یو با فرهنګه سپي یادښتونه.............................. ۲۹
وایي «ترهه ګر» يې...!! ...................................... ۳۰
شعر پوښتنه کوي............................................. ٤٤
مینه او تېل ..................................................... ٤۹
له شعره څه ګټه؟.............................................. ٥٦
ډېر ویشتونکي ماشومان ...................................... ٥۷
ستاسې په هېواد کې ولې څوک نه خاندي؟................. ٥۹
پوښتنه.......................................................... ٦۲
د مني مارغان راته ګران دي.................................. ٦۳
ورځ به شي! .................................................... ٦٦
د بلقیس په ویښتو کې دولس سره ګلان........................ ٦۹
یوازې مینه بریالۍ ده.......................................... ۷۷
بیروت سوځي او ته راته ګرانه یې .............................. ۸۳
اوربند .......................................................... ۹٦

(c) ketabton.com: The Digital Library


له کلیمې پرته............................................................ ۹۷

د رسمولو درس............................................................ ۹۸

وطن........................................................................ ۱۰۳

لیکم........................................................................ ۱۰۵

د شعر یاران.............................................................. ۱۰۸

د ویر ماشومان ........................................................... ۱۰۹

راته گرانه یې! ........................................................... ۱۱۱

ټول شیان مري............................................................ ۱۲۱

دا څرنګه وطن دی؟...................................................... ۱۲۳

آزادي....................................................................... ۱۲٤

د شعر سور گل ........................................................... ۱۲۵

بې تا وژړېدم.............................................................. ۱۲٦

یو بانګي .................................................................. ۱۲۷

منفجرېدل... .............................................................. ۱۳۰

وطنه ...................................................................... ۱۳۱

غواړم و دې نیسمه غېږ کې.......................................... ۱۳۲

سویسي مرغۍ ........................................................... ۱۳٤

غواړي ګډ شي په دریابونو ............................................ ۱۳۵

د وحشت نسلونه ......................................................... ۱۳٦

وروستۍ کوتره ........................................................... ۱۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړم مین شم.......................................................... ۱۳۸
ښکلی ژوند.............................................................. ۱۳۹
د جمعې خطبه ......................................................... ۱۴۰
مړینه.................................................................... ۱۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څو خبرې

نِزار قباني د سوریې مشهور شاعر د ۱۹۲۳ کال د مارچ په ۲۱ مه په دمشق کې وزیږېد. پلار یې یو زیارکښ کارګر و. هغه د خپل پلار په اړه وایي:«که وغواړم پلار مې په کومې ډلې کې شامل کړم، نو بې له شکه یې د زیارکښانو په ډله کې شمېرم، ځکه، چې د خپل ژوند پنځوس کاله یې د سکرو د بوي له استنشاق سره تېر او سر یې د بورې د بوجۍ او د لرګینو تختو او صندوقونو پر «بالښت» کېښود.»

قباني د عاشقانه شعرونو تر څنګ زیات شمېر سیاسي او اعتراضي شعرونه ویلي. ده په خپلو شعرونو کې تل عرب شیخان غندل او د غربیانو مریيان یې ګڼل:

عربي نړۍ، خپله توره په ګرو ایښې

د لوي شرافت خبره هم، هسې یو سراب دی

عربي نړۍ تېل په خپلو خصیتینو کې تویوي

او وایي.... خدای لوی دی

د خلکو وینه،

څه د تېلو مخکې، څه له تېلو وروسته

زبېښل کېږي

یوه ډله تل اربابان

دا بله تل چهارپایان....

(c) ketabton.com: The Digital Library

په عربي ادبياتو کې د قباني د شعر د اهميت په پام کې نيولو سره مې تابيا کړې وه، چې ګڼ شمېر شعرونه يې وژباړم او د «مينه او تېل» تر نامه لاندې يې خپاره کړم، خو له بده مرغه اوسنيو بوختياوو د دې کار اجازه رانکړه، نو په اوسني ژباړه مې بسنه وکړه.

د يادونې وړ ده، چې د نزار قباني د ځينو شعرونو ژباړه بشپړه نه ده او يوازې هغې برخې مې ژباړلي، چې ما ته په زړه پورې وې. د دې لپاره د «د وير ماشومان» له عنوان وروسته د شعرونو عنوانونه ما په خپله خوښه ټاکلي.

د دې تر څنګ ما هڅه کړې، چې د نزارقباني د شخصي ژوند د اوږدې بيوګرافۍ پر ځای د هغه فکر او اند ته اشاره وکړم. سره له دې چې د ده د شعرونو له مخې کولای شوو په فکري ليددود يې پوه شوو، خو دا اشاره د ده  د فکري لورليد په پوهېدلو کې لاموثره تماميدلای شي.

په پای کې، د خپل ګران استاد او ملګري، زيرړ افغان، په ټوله مانا منندوی يم، چې تل يې د ژباړې د لابډاينې او سمونې په برخه کې بې دريغه مرسته کړې ده.

ويار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نزار قباني فکر او اند*

▢ که له ګډون څخه مو موخه دا وي، چې د شعر لیکلو پر وخت ولس زما پر ګوتو ناست وي، دا خبره سمه نه ده. خو که موخه مو دا وي چې د ولس ستونزې، اغېزې او تاثرات او د هغوی احساسول، لکه د هغو آسونو په شان، چې د باران پر بوي تر ورېدو مخکې پوهېږي، نو بیا سمه ده.

▢ زه کوچنۍ او غټې تجربې نلرم. زما هره کوچنۍ تجربه په ورته وخت کې د ټولې نړۍ تجربه ده. کله چې له خپله ویره غږېږم، د ټول جهان ویر په پام کې نیسم. که ګمان کوی، چې د شاعر جزیي تجربه له بله برزخه راځي، نو تېروتی یې. ځکه شاعر د ټاټوبي، ټولنې، تاریخ او د کلتوري، روحي او جسمي میراثونو برخه ده او هره کلیمه، چې شاعر یې پر کاغذ کاږي، په خپلو زاویوو کې ټول انسانیت رانغاړي.

▢ باور لرم، چې له عشقي شعره سیاسي شعر ته بدلون په هېڅ توګه ګټوره سوداګري نه ده. د مېرمنو په سترګو کې بیده کېدل د اغزنو سیمونو په منځ که د ویدېدو په پرتله ډېر امن او هوسا دي او د عطرو سوداګري د سرکې له سوداګرۍ څخه ګټوره ده. زموږ په هېوادونو کې هوښیار هغه

---

* د نزار قباني د فکر او اند په اړه دا لنډ مالومات له هغه اوږدې مرکې اخیستل شوي، چې ده د ۱۹۷۱ کال په اکتوبر کې له منیرالعکش سره یې تر سره کړې وه. پ.ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، چې د سیاست کوهي ته نه وردانګي. د عشق هېواد تر ټولو نېکمرغه هېواد پاتې کېږي او ډاډه ووسه، که ځواک مې لرلای، چې د اوږده مهال لپاره د عشق پر ټاټوبي خپله واکمني وساتم؛ د خپل عرش او رعیت د پاېښت او دفاع لپاره هر ډول امکانات مې لرل.

▢ تېنګار کوم، چې دا سیاسي شعر و، چې زه یې له هر څه زیات له صلیب او پړې راځوړند کړم. د عربي هېوادونو له نیمایي زیات واکمنان زما د سیاسي شعر په اړه غلیمانه لید لري او ما رټل شوی ګڼي. هغوی خپلو هېوادونو ته زما د کتابونو د ننوتلو مخه نیسي، حال دا چې زما کتابونه یې د میني د شاعر په توګه نازول او په غېږ کې یې نیول. زما لپاره شوني وه، چې د باطنیونو او ډارنو په څېر د تقیې له آره پیروي وکړم. خو ما په بودایي توګه په اور کې مړینه غوره کړه، ځکه چې ایمان لرم، چې لیکل په خپله یو ډول شهادت دی او حقیقي شاعر هغه څوک دی چې د خپلو کلیمو په تورې وژل کېږي، لکه څنګه چې سقراط او حلاج ووژل شول.
زه هغه شاعر یم، چې خپله همېنشنۍ لاره د خنجر په تېره اړخ غوره کووم او ګمان کوم، چې د خنجر پر تېرې خوا بیده کېدل، نه هوسا خوب دی او نه هم د لېوالتیا او رغبت وړ.
په کومه مینه یې چې زه تړلی یم، هغه مینه نه ده، چې د ښځې د بدن جغرافیه یې محدودوي. زه په داسې مرمرینه تنګ قبر کې مېشته کېدل نه منم. ښځه له لویو وچو څخه یوه ده، چې هلته مې سفر کړی، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوله نړۍ نه ده. زما مينه ټول ژوند په غېږه کې رانغاړي، دا مينه په خاوره کې، په اوبو کې، د مبارزينو په ټپونو، د ماشومانو په سترګو، د زده کوونکو په اعتصابونو او د قهرجنو په قهر کې ځای لري. ښځه زما د اوږده مزل له تمځايونو څخه يو او د بندرونو يو بندر دی، چې يوه ورځ يې ماته ډوډۍ او اوبه، وريښم او عودونه راکړل، خو نور بندرونه هم شته چې بېړۍ مې ځان ته رابلي.

ښځه يوه ورځ زما په لاسونو کې يو ګل و، په ګوتو کې مې يوه ګوته او هغه خوږ وير، چې پر بالښت مې بيده کېده، خو وروسته په وژونکي توري بدله شوه.

ښځه زما لپاره د مالوچو په مينځ کې د طلا سکه، په حرمسرای کې منتظره وينځه او يا هغه مسافرخانه نه ده، چې بکسونه په کې ږدم او ځم. ښځه زه اوس د انقلاب ټاټوبی او د آزادي بخښوونکي لاملونو يو لامل ګڼم. زه د مېرمنو مسئلې د ټولنې د آزادي بخښوونکي جګړې له مسئلو سره، چې د عرب نړۍ ورسره لاس او ګريوان ده، اړوندې ګڼم. د دې لپاره نن ليکم، چې ښځه د خليفه ګانو له غاښونو او د قوم د سرکرده ګانو له نوکانو وژغورم. غواړم هغه د پخلنځي او د دسترخان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولولو له ښځې وژغورم او د عنتره او ابو زيد الهلالی* له تورو يې آزاده کړم.

■ سياسي ژوند مې د ژوندانه او هنر بريالی اړخ پاتې شوی، او زما شعر او ښايسته قاموس يې بډايه کړی دی.

■ د شعر لار اصلاً د انيشتين په لور نه ده، شعر د پاک سرشتو په لور درومي، ياني څوک چې د اغوستلو لپاره جامې ونه مومي، قصيده اغوندي.

زه چې ولسونو ته کله شعر لولم، مخکې له دې چې سالون ته راننوځي د هغوی منل شوي علمي درجې او سندونه نه ګورم.

که داسې انګېرې، چې زه له داسې يو ملت سره اخته يم، چې پوهه يې لږه او کلتور يې کم دی، د روس ملت هم د انقلاب په پيل کې همداسې و، خو دا د پوشکين او ماياکوفسکي د ژبې د نيمګړتيا لامل ونه ګرځېده.

■ څنګه چې د عرب ملت زما جبر دی، نو دنده مې ده چې ورسره واوسم او ورسره شعر ووايم او ورته وليکم. که دې ته په تمه پاتې شم، چې د

---

* عنتره بن شداد له اسلام مخکې عربی شاعر و. هغه د عربستان په تاپوزمې، نجد کې نژدې ۵۲۵ زېږدېز کې وزيږېد او او نژدې ٦٠٨ زيږدېز کې مړ شو. هغه د خپلو حماسي شعرونو او همدا ډول د خپلي معشوقې عبله له کبله مشهور و.

ابو زيد هلالی د بنی هلال د قبيلي يو ولسي اتل و. هغه د عربي ولسي حماسې، چې سيره هلاله نومېږي، اصلي شخصيت و. هغه په دې حماسې کې له نجد څخه د افريقا شمال ته د بنی هلال د مهاجرت داستان بيانوي. پ.ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابوظبی کلتور هاروارډي کلتور شي، دا زما په اند د شعر، تاریخ او حقیقت لپاره توطئه ده. په سوډان کې لس زره کسان ما ته غوږ وو، هغوی د انګورو د تورو ګونګورو په شان د ونو له څانګو راځوړند وو، غوښتل دې چې هغوی وباسم، ځکه چې جلابیې* یې پر تن وې.
خو هغه روڼ اندي، چې غواړی شعر د هغوی د پام وړ وي، څوک دي؟ آیا هغوی لکه ډاکټران، مهندسان، د بانکونو مدیران، د شرکتونو مالکان او قراردادیانو په شان فارغ التحصیلان دي یا وزیران، مدیران او کارکوونکي دي؟
د کتاب وېشلو شمېرې ثابتوي، چې پورته یاد شوي کسان، ان یو کتاب هم نه لولي او نه کتابتون ته ځي. د هغوی فرهنګي سطحه ورځپاڼې او تلویزیوني سریالونه دي.

□ له ما غواړی، چې د سکرو د ډېرو په کان کې پاک پاتې شم او خپلې جامې تمېزې وساتم. رانه غواړی چې په داسې تولنه کې سپېڅلې واوسم، چې په خپله سپېڅلتیا نه پېژني. رانه غواړی چې مینه د اولیاو او قدیسانو او د کرامه اصحابو مرتبو ته ورسوم. دا زما د انسانیت پر ضد ده.
زه ځان د هغه قبیلي یو تن ګڼم، چې له ښځو سره په غابښ چیچلو او نوکارو مینه کوي او د قبیلي له میراث او د جاهلانه عشق له شریعت څخه د خلاصون لپاره ډېر اوږد مهال ته اړتیا لرو.

---

* جلابیه: غټې او پراخې جامې چې پر کالیو دپاسه اغوستل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

▢ عربي انقلاب باید د جسم او فکر بدلون یوځای په پام کې ونیسي، د بنې او منځپانگې بدلون یوځای په پام کې ونیسي. هر انقلاب چې یوازې فکر په پام کې ونیسي، بې له دې چې جسم په پام کې ونیسي، هغه انقلاب به نیمگړی انقلاب وي. جسم اجرایي وزله ده او که د دې وزلې گردښت سمبال نشي، پایله به یې هېڅ وي. د بېلگې په توگه د چین انقلاب د صیغي اصل له مینځه ویوړ او اوس کوم پلار، خپله لور پر هېڅ هانگ کانگي مرییوال نه پلوري. همدا ډول د هغه دود جرړې وچې کړې، چې د انجونو پښې به یې په اوسپنیزو قالبونو کې اېښودلې، چې له کوره دباندې ونشي کړای لاړې شي. د چین انقلاب معجزه په دې کې ده، چې په ټوله مانا یې له بودا او کنفوسیوس سره له معاملې سرغړاوی وکړ او مخکښانو یې گړندي بدلونونه خپل رسمي آر وگراځوه او د همدې لپاره اجدادي اروا نوره د نوي چین په عقل کې ځای نلري. خو زموږ انقلابونه، له ټولو آزادي غوښتونکو شعارونو او له ټولو هغو مخکښو آرونو سره سره، چې لارښودونکي یې دي، د جنسي مسئلې له حل څخه د ډېر حساسیت او د مذهبي جرړې له امله ډډه کوي او د همدې لپاره له ملنډیزو تضادونو سره مخ شول....

موږ له مارکس څخه غږېږو، خو بیا هم په شپه کې یو بدوي سړی له تورې ږیرې او له زرغونې جلابیې سره مو لیدلو ته راځي او حرز او تعویذ مو غاړې ته اچوي او خپل کرامات را زده کوي!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

■ د ښکېلاک نقشه دا وه، چې هند د دېگي مسالو او طبي بوټو، مصر د مالوچو، سيلان د چايو او چين د وريجو او اپيومو توليدونکي پاتي شي...
که ونکړاې شو د شپانه له ټولنې څخه کمپيوټري ټولنې ته بدلون ومومو، جنرال موټورز او وال سټريټ او د راکفلر او فورډ کورنۍ به تر اجله پورې پر موږ واکمن پاتې شي.

■ انقلاب زما په اند د عربي انسان د بشپړې جغرافيې بدلون او د هغه بيا جوړېدنه ده. عربي عقل کړکيچن دی، ځکه چې پرته له عمله او اغېزې پاتې شوی دی. هغه درېې ته ورته دی، چې په کوفي خط ليکل شوی او له ځانه بېزاره ده. د عرب انقلابيونو دنده ده، چې پر نوي کاغذ په بشپړه توګه نوي څه وليکي، ځکه چې پخوانی کلام د خپلو ټولو دلالتونو او رموزو څخه جلا شوی دی. خو له کومه يې پيل کړو؟
له پيريانو يې پيلوو، له ماشومانو، له بې فکره فکرونو، له بې شکله شکلونو، له هغو سپېڅلذاتو، چې لا زموږ په موعظو او منقولو اقوالو زهرجن شوي نه دي، له هغو ټولو بې ګناهانو، چې کوپړې يې لا بنه مونډلې نه ده او ملاګانې يې لا محدب شوې نه دي.
پر انقلابي فکر ده، چې د خپل نوم وړتيا ومومي او د بولډوزر د پله په شان د ويجاړيو د له مينځه وړولو او د ډېرانونو او د دې سيمي د راغونډ شويو پاتې شويو خځلو په غورځولو کې، چې د انحطاط له پېرونو پاتې شوي، لاس په کار شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

▫ انقلابي ليكنه، يو انقلابي انسان پنځوي. د ليكنې كار او انقلابي كار لازم او ملزوم دي او كه عرب انسان په دې سيمه كې د هر انقلابي نظام اصلي موضوع ده، نو بايد د هغه د مخاطبولو لپاره نوې بڼه رامينځته كړو...

د لمبه وهونكي انقلابونو او هغو انقلابونو، چې په راتلونكي كې به يې لمبې پورته شي، دنده ده، چې ليكوالان خپله برخه او هغوی د بدلون د عمل لپاره خپل ياران او شريكان وګڼي. د انقلاب او ليكوالۍ تر مينځ هر ډول ټكر، چې اوس د عرب په ځينو انقلابي نظامونو كې شته، د دواړو هممهاله مرګ له ځان سره لري.

▫ د شعر لپاره له هغه طبقې پرته، چې ورته غوږ ږدي او هغه لولي او له هغه څخه اغېزمن كېږي، بله طبقه شتون نلري. شعر هغه اورګاډی نه دی، چې لومړی كلاس يې له دويم، دريم او نورو بېل وي. ټول هغه كسان چې د شعر په اورګاډی كې مزل كوي، پر يوه ډول څوكۍ كښېني او له يوه ډول امتيازه برخمن دي او زه شاعر د شعري پرولتاريا په كتار يا د ولس په كتار كې درېږم ، هر چېرې چې وي او هر ډول چې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تښتوونکي

د شرم وروستي دېوالونه ړنګ شول
خوشاله شوو، ونڅېدو
د ډارنو د سولې هوکړه لیک لپاره مو،
یوبل ته مبارکي ورکړې!
نور مو څه ډارولی نشي
څه مو شرمولی نشي...
وچ شوي د غیرت رګونه
زموږ په بدن کې
پښې مو ایښي د تېښتې په دوران کې
ودرېدلي یوو په شان د پسونو
د مسلخ په کتار کې
منډه منډه
ساه لنډه لنډه
د قاتلانو د موزو د خکلولو لپاره
مخکې کېږو یو له بله، په څو ځله
پنځوس کاله يې وګالله
زموږ په ماشومانو ګوره ولږه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پیازو غوټه یې راغوځار کړه،
د روژې په پای کې
پنځوسم
ځله
**غرناطه** ووتله د عربو له لاسونو
تاریخ ووتو د عربو له منګولو
د اتلولۍ د سرودونو انګازې
ړنګې شوې!
**اشبیله** ړنګه شوه
**انطاکیه** ړنګه شوه...
له جګړې پرته
له وینې پرته
**حطین** ړنګ
**عمویه** ړنګه
**مریم** د اربکیو په لاس پرېوته
خو د دې اسماني سمبول د ازادولو لپاره
هېڅ نر نشته
او نه نرتوب پاتې شوی...

وروستۍ سرې کربښې مو
د **رومیانو** په لاسو کې پرېوتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور له څه دفاع وکړو؟!
نور نلرو ماڼیو کې موږ وینځې
چې قهوه کړې را ته جوړه
چې شهوت رابرابر کړي
نور له څه دفاع وکړو؟!

ان یو اندلس راپاتې نه دی
لوټلي یې له موږه:
دروازې، دېوالونه، مېرمنې، ماشومان
زیتون، غوړي، ډبرې د واټونو
لوټلي یې له موږه:
عیسی بن مریم،
چې لا د غاړې وه
لوټلي یې له موږه:
د لیمو، مندتو او ایلنیو خاطرې،
د جماتونو قندیلونه

موږ ته یې راپرې ایښې
د **غزې** په نوم د سردین* یو قوطی

---

* سردین یا ساردین یو ډول کب دی، چې د خپل خوند او غذایي ارزښت لپاره یې خلک خوښوي.د ساردین نوم د ایټالیا د ساردنیې ټاپو څخه اخیستل شوی، ځکه چې یو وخت په دې ټاپو کې دا کبان ډېر پیدا کېدل. پ.ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د **اریحا** په نوم

وچ

یو هډوکی

د فلسطین په نامه

یوه کاروان سرا

بې له چته

بې له ستنو

خوشې یې کړو

بې هډه

یو بدن

بې ګوتې

یو لاس...

هېڅ غونډۍ راپاتې نه ده،

چې اوښکې کړو پرې تویې

ملت څنګه ژړېدی شي،

چې یې اوښکې

اخیستل شوي وي؟

د **اوسلو** له پټې عاشقۍ هم

شنډ راووتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غنمو له دانې وړوکی
یو هېواد یې راته راکړ
بې اوبو یې تېروم
د اسپرین د ګولې په شان!

دا دی
له پنځوسو کلو وروسته
پر ویجاړ ټاټوبي ناست
بې سرپناه
د زرګونو کوڅه ډبو سپو په شان!

له پنځوسو کلو وروسته
پرته له سرابه
د مېشتېدو هېواد مو هم و نه موند
هغه سوله،
چې د چاړې په شان
پر بدن ځای نه مومي
سوله نه، تاوتریخجنه یو تېری دی!
څه به وي د تېښتې ګټه؟
څه به وي د تېښتې ګټه؟
خو د ملت وجدان،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کله ویښ وي
د بم پلټې په څېر...؟!
د **اوسلو** ټول لاسلیکونه
دي له ړدنه بې ارزښته!

په خوب مو وې لېدلې:
د زرغونې سولې
د سپینې سپوږمۍ
د راڼه سیند
خورا ډېرې رویاګانې
خو ناڅاپه
شوو راویښ په ناولو ډېرانو کې!

داسې څوک شته،
چې د «غښتلو» د سولې پر ځای
د «ډارنو» له سولې وپوښتي؟
داسې څوک شته،
چې په قسطونو پلورېدنوکو
چې په قسطونو کرایه کوونکو
د سوداګرو، تاجرانو
د پانګه اچوونکو له سولې وپوښتي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې څوک شته،
چې د مړو له سولې وپوښتي؟!

واټونه يې غلي کړي
پوښتنې او پوښتونکي يې
ترور کړي...

بې له ميني مو واده وکړ
له هغه ښځې سره،
چې يوه ورځ يې ماشومان زموږ وژلي
يوه ورځ يې ځيګرونه زموږ ژولي
له ځان سره مو بوتله
د ګبين مياشتې لپاره
مستې مستانه وګډېدلو
زمزمه مو ورته غوږ کې
کړل د ميني ټول شعرونه
چې په ياد وو راپاتې
خو له توره بخته
معيوبه، ناتوانه اولادونه مو
د ځينځښې په شان دي زېږولي!
د وير د پياده رو په څنډو کې آواره

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ټاټوبی، چې مو ونیسي په غېږ کې
نه بچیان، چې یې ونیسو په غېږ کې

د واده په جشن کې
نه عربي نڅا
نه عربي خواږه
نه عربي ترانې
نه عربي شرم او حیا
یو وطندار هم په جشن کې نه و

د ناوې د مَهر نیمایي برخه په ډالر
د الماسو د ګوتې بیه په ډالر
د عاقد پیسې هم په ډالر
د نکاح کېک و ډالۍ کړی امریکا
د ناوې جامې، ګلونه، شمعې
او د **مارینز** موسیقي
ټول امریکایي!

واده پای ته ورسېد
فلسطین په کې شتون ونه موند
خو خپل انځور یې ولیدلو
چې له ټولو رسنیو خپرېدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې اوښکې يې کتلې،

چې د **شيکاګو**، **نيوجرسي** او **ميامي** په لور

د سمندر څپې شلوي

او د ذبحه شوي مارغه په شان

چيغې يې وهلې:

دا واده زما واده نه دی ،

امريکا، هېڅکله!

دا جامې زما جامې نه دي،

امريکا، هېڅکله!

دا شرم زما شرم نه دی،

امريکا، هېڅکله!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تاریخ ښوونکی چا ووژو؟

**۱**

ښادي راشي له کومه،
کله مو چې رنګ د خوښې تور دی
کله چې ځانونه مو تور
فکرونه مو تور
منځ مو تور
ان سپینوالی راله
توروالي ته نږدې دی!

**۲**

ښادي راشي له کومه،
کله چې زموږ د ژوند ټولې پېښې
د استبداد سریال
هېواد استبدادي
هجرت استبدادي
رسمي ورځپاڼې استبدادي
مخفي پولیسان استبدادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېرمن استبدادي
او له یوې ښایسته ښځې سره مینه
استبدادي...!

**۳**

ښادي راشي له کومه،
کله مو چې د ټولو ماشومانو پر کالیو
د کربلا وینه بهېږي...
اند،
زموږ په ټاټوبي کې
ګڼل کېږي ناولې له بوټانو
ښځې
او
شهوت
جوړوي د ګردو موخو نځوږ مو په نړۍ کې

**۴**

ښادي راشي له کومه،
له هماغه ورځ چې په **غرناطه** کې
د ښځو پر سر
موږ یو له بل سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس و گرېوان شوو
ملت وپاشېد
حکومت له لاسه لاړ
او هېواد له قفسه والوت!

**۵**

زما د ټاټوبي تر ټولو دنگه ونه
د کينې ونه!

**٦**

حيران يمه چې په ټاټوبي کې مې
هر گل په خپل واده کې
د وير جامې اغوندي.

**۷**

موږ تلپاتې ملت نه لرو
نه هم کوم حکومت
يو له بله بېل يوو...

**۸**

څه چې لولو
آيا «ورځپاڼې» دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د مړو تابوتونه
يا د وير او غم بلنه؟!

**۹**

ليکنې مو له نورو اقتباس
غړونه مو نيکونو له مرۍ څخه راوځي

**۱۰**

له «يو زرو يوې شپې»* يمه بېزاره...
يمه بېزاره،
چې د «شهرزاد» په غېږ کې
د ليوني په شان
ويده شم.

**۱۱**

ښادي راشي له کومه،
کله چې مو ماشومانو

---

* يو زرو يو شپې، چې په عربي کې د الف ليله و ليله هم يادېږي، د عاميانه داستانونو يوه ټولګه ده چې په اوږدو پېړيو کې راټول شوي دي. اصلي داستان يې د «پاچا» (شهريار) او د ملکې (شهرزاد) په اړه دی. پاچا د خپلې مېرمنې له خيانت وروسته پرېکړه کوي چې هره شپه له يوې انجلۍ سره واده وکړي او په سبا يې ووژني. شهرزاد د يو وزير په څېرکتيا سره هره شپه پاچا ته يوه کيسه کوي او کيسه نيمه پرېږدي، چې پاچا د اورېدلو لپاره يې هغه ژوندۍ پرېږدي. دا لړۍ يو زر او يوه شپه ادامه مومي او... پ.ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپل عمر لا شنه زرغونه ليدلی نه ده!

**۱۲**

ښادي راشي له کومه،
له کومې ورځې چې له فلسطين نه راووتلو
د ليمو او مندتې له حافظې نه راووتلو
په ايرو واوښتولو.

**۱۳**

له هغه ورځ چې مو د بيروت سيند پرېښود
د ميندو سينې مو پرېښوې
د يادونو گلونه مو پرېښول
خپل د آزاديو کورونه مو پرېښول
د تولد کارتونه مو  پرېښول.

**۱۴**

مور، يو بل وخوړل
اوس به ماهيان او ملخان
زمور عذر ومني؟!

**۱۵**

په ټاټوبي کې زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ان د خدای جامې
لیلامېږي!!

**۱٦**

ښادي راشي له کومه،
هره مرغۍ چې راوالوځي خوا له
سر یې پرې شي
هر پیام وړونکی چې راغی
سر یې پرې شو
هر مصلح
هر نوښتګر
هر لیکوال
هر شاعر،
چې راغی
د شعر پر بالښت یې
سر له تنه پرې شو!

**۱۷**

زما په ټاټوبي کې د هوا بدلېدل
حرام!
د مېرمنو پر سترګو رانجه وهل

(c) ketabton.com: The Digital Library

حرام!

د شعر ځاې پر ځاى كول

حرام!

د فعلونو او نومونو صرفول

حرام!

حرام!

**۱۸**

په درېمې نړۍ کې اربابان

د مرغيو له چغېدو

د گلونو د وړمې له خورېدو

د کوترو د غومبر له اورېدو

ډارېږي

که سيند

ډېر وغړېږي

زندان يې ځاى وي!

د درېمې نړۍ اربابانو ته ده سخته،

چې له اند سره پخلا شي

قلم ومني!

لېوه چېرې شي کولاى

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پسو سره پخلا شي؟

**۱۹**

موږ په تېرو پېړونو کې
په شعر
په بيان
په بديع او وينا کې
مخکښ وو
خو اوس مو دنده
ځيرل دي د ليکنو!

**۲۰**

پخوا
د پوهنې او کلتور لومړنۍ ماڼۍ
مامون وه جوړه کړې
تر هغه وروسته راغلل داسې واکمنان بيا
چې د وژلو په حرفې کې
د زندان جوړولو په مهندسۍ کې
تخصص لري!

**۲۱**

ما په ماشومتوب کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ویاړ،
انساندوستی،
عزت،
سرلوړی،
ملتیا،
سخاوت او زړورتیا
زرگوني کیسې وې لوستلې
خو کله چې شوم لوی
شوم پوی:
چې په تاریخ کې مې لوستلي نیمایي،
هسې خوشې گنگوسې وې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د يو با فرهنگه سپي يادښتونه

اربابه!
تا نه زر او ياقوت او حرير نه غواړم
تا نه د اطلسو د جامو رااغوندل نه غواړم
تا نه د وريښمينو جامو رااغوندل نه غواړم
يوازينۍ غوښتنه مې:
خبرې مې ته واوره
زه په خپلو شعرونو کې
راوړم تا له د ټولو عربانو کريکه
راوړم تا له د ټولو عربانو کرکه!

اربابه!
شعر او غزل دې
که خوښ نه وي
نو جلاد ته بيا ووايه
پرېږده پرېږده،
چې آزاد وغاپم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وايي «ترهه گر» يې...!!

مور په «ترهه گرۍ» تورنوي
که د گل له بويه دفاع وکړو
که د ښځې له خوشبويه دفاع وکړو
که د يوې بې گناه قصيدې دفاع وکړو
که دفاع وکړو:
له شنه اسمانه
له هغه هېواده،
چې څه ندي په کې پاتې
نه اوبه، نه هوا
نه کېږدۍ، نه اوښ
نه يوه توره قهوه...

مور په «ترهه گرۍ» تورنوي
که په مېړانه دفاع وکړو:
د **بلقيس** له زلفانو
د **ميسون** له لبانو
له **هنده**

(c) ketabton.com: The Digital Library

له **رغده**

له **لبنی**

له **ربابه**

که دفاع وکړو

د الهام په بڼه،

چې راوريږي له بڼو

د رانجو له بارانه!

له ما سره به هېڅکله و نه مومئ

محرمانه شعرونه

محرمانه ژبه

يا محرمانه کتابونه،

چې تر شا د دروازې يې بنديوان کړم!

ان يوه قصيده نلرم،

چې روانه وي محجوبه

په واټو کې...

موږ په «ترهه گرئ» تورنوي

که د خپل هېواد له پاتې شونو وليکو

ناتوانه، شينډلي، ړنگېدلي

چې غړي يې وراسته، پاشېدلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغه هېواده چې پېژاند لټوي
له هغه ملته چې نوم نلري
له هغه هېواده،
چې له تېرو بډایه شعرو یې
پاتې نور څه نه دي
له **خنساء*** قصیدو پرته
له هغه هېواده،
چې د اسمان په لمن یې
سره، شنه یا زېړه آزادي پاتې نه ده...
له هغه هېواده،
چې ورځپاڼو پېرېدو ته مو پرېږدي
خو خبرو اورېدو ته مو نه پرېږدی....
له هغه هېواده،
چې پر ټولو مرغیو یې
د تل لپاره د چغېدو بندېز لګول شوی

له هغه هېواده،

* خنساء، چې اصلي نوم یې تماضر بنت عمروالسلمیه و، له اسلام څخه دمخه یوه مشهوره شاعره وه. هغه د خپل ورونو صخر او معاویه لپاره چې له اسلام له عصره وړاندې ووژل شول، د مرثیه ویلو لپاره پېژندل کېږي. د هغه په قصیدو کې تر ډېره د خپلو ورونو زوړتیا او ویر او خپګان بیان شوی دی. پ.ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې لیکوالان یې
له ډېره ډاره
عادت شوي،
چې پر هوا لیکل وکړي!!

له هغه هېواده ،
چې حال یې، احوال یې
زما د وطن د شعر له احواله څه توپیر نلري:
خوشې شوې ویناوې
بې مانا خبرې
وارداتي کلام
غیر عربي بڼه
غیر عربي ژبه،
چې نه پیل لري نه پای
نه له خلکو سره اړیکه
نه له ځمکې سره
نه له ستونزو د بشر سره!

له هغه هېواده،
چې درومي مذاکراتو ته د سولې
له مېړانې تش

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتې ییله!

له هغه هېواده،
چې سړیو یې له ډاره
ځانونه لامده کړي!
او له مېرمنو پرته ځوک ورپاتې نه دي!
ځوک پاتې نه دي،
چې هغو ته **نه** ووایي،
چې په ګونډو شول
او زموږ له کورونو، ډوډۍ او غوړو
او له ځلانده تاریخ نه یې
هتۍ را جوړه کړې.

موږ ته داسې شعر راپاتې نه دی،
چې خپل عفت یې برېستن کې د سلطان
له لاسه ورکړی نه وي!

موږ په سپکېدو یوو روږدي شوي
خو له هغه انسانه به څه شي پاتې،
چې په سپکو سپکېدلو شي عادت ؟!

لټوو موږ د تاریخ په کتابو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اسامه بن منقذ**
**عقبه بن نافع**
**عمر** او **حمزه**
او **خالد،** چې د شام په لوري درومي...
په ملي ړوندتيا يوو اخته شوي ؟!
يا له کورمالۍ څخه کړېږو؟!

موږ په «ترهه ګرۍ» تورنوي
که تر اسراييلي بېلدوزرو لاندې،
چې مو خاوره اړوي راوړي
تاريخ مو اړوي راړوي
انجيل مو اړوي راړوي
قرآن مو اړوي راړوي
خاوره د پيغمبرانو مو اړوي راړوي،
ونه غواړو شوو مړه
که ګناه مو دا وي
نو بيا څومره ښايسته ده «ترهګري»!

موږ په «ترهه ګرۍ» تورنوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د مغولانو، یهودیانو* او بربرو په لاسونو
ونه غواړو شوو نابود
که د **امنیت شورا** شیشې،
چې لوی امپراتور ورباندې خیټه اچولې
پر کاڼو ولو!
موږ په «ترهه ګرۍ» تورنوي
که له لېوه سره مذاکرې ته غاړه کېنږدو
او امریکې،
دې بې فرهنګې ته
د بشر کلتور په وړاندې
له دې بې تمدنې سره
د نني تمدنونو په وړاندې
د مرستې لاس ورنکړو!
امریکا هغه ستره ودانۍ ده،
چې دېوال نلري!
موږ په «ترهه ګرۍ» تورنوي

*نزار قباني، په ځينو شعرونو کې په مستقيمه توګه پر يهودانو بريد کړی او ان ويلي که چېرې هيټلر له يهودانو بې غمه کړي وای، نو فلسطين به له داسې ربړې سره مخ نه وی. د نزار قباني دا ډول دريځ سم نه دی، ځکه ستمګران هېڅکله د خپلو ولسونو استازي کېدای نشي. که چېرې ونکړای شو د ولس او دولتونو، د ولس او واکمنو ستمګرو طبقو تر مينځ توپير وکړو، نو دريځ مو غير واقعي او ارتجاعي لور نيسي. پ.ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که له هغې زمانې سره مخالفت وکړو،
چې په کې شوې،
مغروره،
شتمنه
ځواکمنه امریکا
د عبري ژبې رسمي ژباړونکې!

موږ په «ترهه ګرۍ» تورنوي
که د **قدس** او **الخیل**
یا د **غزې** او **ناصرې**
پر مخونو ګلونه وشیندو
که ویسو اوبه
محاصرې ته!
که ویسو ډوډۍ
محاصرې ته!

موږ په «ترهه ګرۍ» تورنوي
که غږ کړو پورته
د پرګنو ضد مشرانو په وړاندې
د هغوې په وړاندې،
چې زینونه یې بدل کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پر وحدتپالنې يې
کړله غوره
دلالي!

موږ په «ترهه ګرۍ» تورنوي
وايي د «ترهه ګرۍ» کوئ ننګه،
که د فرهنګ کړو دنده خپله
که د فقهې او سياست کتابونه لولو
که ياد کړو خپل لوی خدای
که سورت د «فاتحې کړو تلاوت
که جمعې خطبې ته غوږ شو

موږ په «ترهه ګرۍ» تورنوي
که له خپلې خاورې دفاع وکړو
که د خپلې خاورې له ستروالي....
که پاڅون وکړو
پر خلکو د تېري په وړاندې
پر ځان د تېري په وړاندې...
که راپورته په ملاتړ شو
د واټ د خرما په وروستيو ونو
په ملاتړ د اسمان د وروستيو ستورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ملاتړ د خپلو نومونو د وروستیو تورو
په ملاتړ د خپلې مور د تې
د وروستیو شیدو د څاڅکو...
که ګناه مو دا وي
نو بیا څومره ښایسته ده «ترهګري»!

له «ترهه ګرۍ» سره موافق یم
که ژغورلاې مې شي
له هغو کډوالو،
چې له روسیې
له رومانیا
له مجارستان
او
له لهستانه
راغلي
او په فلسطین کې یې
زموږ پر اوږو پښې ایښي
راغلي،
چې د قدس منارې
د الاقصی جومات دروازې
ډبرلیکنې او ګنبدونه رانه غلا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له «ترهه ګرۍ» سره موافق یم
که وکړای شي مسیح
د مرګ او ویجاړنې له سفیرانو
آزاد کړي
مقدسه مریم او مقدس ښار
آزاد کړي.

تر پرونه،
د خپلو ټاټوبو په واټو کې زموږ خلک
په څېر د اسونو شنېدل
څپاند وو ډګرونه صلابت د نهر په شان
خو **اوسلو** له تړون وروسته
نور مو غاښونه په خولو نشته!
بدل شوي په یوه ړانده ملت یوو؟!
بدل شوي په ګونګي یوه ملت یوو؟!

له «ترهه ګرۍ» سره موافق یم
که له طاغوت او طاغوتیانو
ژغورلای شي ملت
او د انسان له وحشته
ژغورلای شي انسان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له «ترهه ګرۍ» سره موافق يم
که له يهود امپراتوره مې ژغورى شي
که له رومي امپراتوره مې ژغورى شي.

له «ترهه ګرۍ» سره موافق يم
تر هغو،
چې نوې نړۍ
په «عدل» او «انصاف»
د امريکې او اسرائيل په منځ کې وېشل شوې!

له «ترهه ګرۍ» سره موافق يم
له ټولو شعرونو سره
له ټولو نثرونو سره
له ټولو غاښونو سره،
چې په خوله يې لرمه
تر هغو موافق يم،
چې نوې نړۍ
دربست د قصاب په واک کې وي!
له «ترهه ګرۍ» سره موافق يم
تر هغو،
چې نوې نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ د لېوانو په کتار کې
طبقه بندي کوي!

له «ترهه گرۍ» سره موافق يم
تر هغو،
چې امريکايي سنا
د نورو کړنې ارزوي
جايزې ټاکي
جزا ټاکي!

له «ترهه گرۍ» سره موافق يم
تر هغو،
چې نوې نړۍ
په خپل ذات کې د عربو له بويه
وي بېزاره

له «ترهه گرۍ» سره موافق يم
تر هغو،
چې نوې نړۍ
زما د ماشومان سرونه پرې کوي
او خپلو سپو مخې ته يې اچوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو بیا چغه کېږم:

له «ترهه گرۍ» سره موافق يم...

له «ترهه گرۍ» سره موافق يم...

له «ترهه گرۍ» سره موافق يم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شعر پوښتنه کوي

زښت يمه خوشاله،
چې شعرونو مې ياست تاسې
ډارولي
سره له ټولو جلادانو،
چې سرونه پرې کوينه!
ډېر نېکمرغه يم،
چې رپېږئ
د رنگ له يوه څاڅکي
د کاغذ د خش خش له آوازه!

اى واکمنه،
چې له ترانې
له کليمې
له نوپنځاند شاعر وېرېږې
اى واکمنه،
پر خپل حکومت چې ډارېږى
د گلونو له وږمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زردالانو له بویه ډارېږی
ای واکمنه،
چې وسله والو ځواکونو ته فرمان ورکوی،
چې شوق زنداني کړي.

خوشالېږم،
کله چې دروازې تړئ
او سپي خوشې کوئ
په خپلو ښځو ډارېږئ،
چې د میني پاچایانو په لومه کې ګیرې نشي

خوشالېږم،
چې کتابونه مې قتل عاموئ
شعرونه مې ذبحه کوئ
خو جسد مې یوه ورځ
په داسې بارګاه به شي بدله،
چې د زیارت په موخه
میینان به ورله درومي.

هېڅوک هم نشته،
چې آسونه ایسار له شنېدلو کړي
او مرغۍ بندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نویو ټاټوبو له موندلو کړي
په دې سیالۍ کې به یوازې
بریالې
کلیمې شي
تاسې به لیکوال ووژنئ
خو لیکل وژلی نشئ
سندرغاړی به ووژنئ
خو آواز وژلی نشئ.

نهه نوي ښځې مو
په یوې کوټې کې
په یوه حرمسرای کې
راغونډې کړي
هر څه برابر:
نکاح خط
طلاق خط
په جامونو کې شراب
سرې سترګې
د نغري په شان!
خو د اخلاقي ارزښتونو د ساتنې په پار
مو تل دي منعه کړي زما اشعار!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو بیا په تمه واوسئ،
چې بې خبره راځم
لکه **مهدی**
یا هم د **بُراق** په شان
سترګې په لار راله واوسئ،
چې د پېژندو مې اړتیا نشته
خلک به کړي ځوړند
د پاچا د عکسو پر ځای
په دېوالو
زما عکسونه.

راته منتظر واوسئ
ای دلالانو،
چې ودان کړي مو د تېلو له پیسو
د نفاق دي اهرمونه
زموږ شعر او نثر مو کړ بدل
د ارتزاق دي دکانونه!
سترګې په لار راله واوسئ،
چې شعر تل:
د ولسونو د تندیو له خولو
د ډوډۍ له بخرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځپلو له ګړنګونو
او له ژورو راپورته شویو زلزلو نه
د بهر په لور پنځول کیږي.

څومره هم،
چې دېوالونه لوړ کړئ
خو لمر به نشئ کړلئ منعه
له څرېکېدو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مینه او تېل

**۱**

ته به څه وختې پوهېږې؟
ته به څه وختې پوهېږې؟
راله ووایه ښاغلیه؟
زه د هغو جینکو په کتار کې نه یم،
چې ستا محبوبې دي
نه ښځینه فتحه یم،
چې ورسیوا مې کړې
پر خپلو فتحوحاتو
زه کومه شمېره نه یم،
چې ورزیاته مې کړې
په شته شمېرو
خپلو دوسیو کې
ته به څه وختې پوهېږې؟

**۲**

ته به څه وختې پوهېږې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای اوښه،

چې بیدیا کې لا تر اوسه ستا په پزه

چا اوسار تړلی نه دی

ای،

چې لاسونه او څېره دې

تل د خیرو او ټناکو لاندې پټ دي

ته به څه وختې پوهېږې؟

چې زه به نور ستا په لاسو کې

د سګرټو ایره نه یم

ته به څه وختې پوهېږې؟

چې پر بالښت به دې

له زرګونو سرونو یو سر نه یم

ته به څه وختې پوهېږې؟

چې زه به ستا د لیلام

مجسمه نه یم

ته به څه وختې پوهېږې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پر سینه مې

به ستا نوکارې نه وي...

ته به څه وختې پوهېږې؟

**۳**

ته به څه وختې پوهېږې؟

چې ما به نشې کړای بې حسه

نه امارت به دې وکړای شي ما بې سده

ته به څه وختې پوهېږې؟

چې ته به سره له خپلو تېلو

سره له ټولو امتیازاتو

سره له هغو تېلو،

همرنگه ستا د چینې

سره له هغه بې شمېره موټرونو،

چې بې شمېره معشوقو له ډالۍ دي

د نړۍ څښتن نشې.

څه شول ستا هغه مشهوره د اوښانو بازارونه؟

څه شول ستا پر لاسو هغه خالونه؟

څه شول ستا د کېږدۍ سوري؟

څه شول ستا د پښو د تل چاودونه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه شول ای منفعله؟
څو شول ای د خواهشاتو مرییه؟

اوس ستا ده د صفتونه شرحه
معشوقه بازي
اوس لس هاو ښځې سر پر سر
د لذت پر بړستن انباروې

د یوه مړه حیوان جسد په څېر
ښځې له خپل دیوال راځړوې
ته به څه وختې پوهېږې؟

**۴**

ای خېټو
ته به څه وختې پوهېږې؟
هغه نه یم،
چې له اوره دې وډارېږم
ستا د جنت لېواله شمه
ستا له هغو سرو زرو،
چې په لاسو یې لرى
زما ارزښتمن عزت ډېر لوړ دى
زما د فکر فضا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د فکر له فضا ډېره لېرې
ای،
چې خانواکۍ دې
ستا د جنت لېواله شمه
په سلول سلول کې جرړې وهلي
ای،
بیدیا هم
له دې
چې تا ته منسوبه شوې
ډېره سخته شرمنده
ته به څه وختې پوهېږې؟

**۵**

ای،
د تېلو امیره
د خپلو هوسونو په چقړو کې ورغړه
ورغړه، لکه پر کاشیانو چې رغړېږي
ورغړه د ګمراهۍ په لوګیو کې ورغړه
ته تېل لرې، تېل
د خپلو معشوقو پر پښو یې ومښه
هغو نایټ کلبونو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پاريس کې دې ليدلي
ترحم يې ستا په ذات کې وواژه
مهرباني او مېرانه يې ووژله
د بدلمنې يوې ښځې په پښو کې
خپل غچ دې تر خاورې لاندې ښخ کړ
په وړيا دې ورکړ **قدس**
په وړيا دې هم ورکړ خدای
په وړيا دې ورکړې لا د خپلو مړو ايرې...
تا له سره دي هېر کړي،
چې اسرائيلو په جګړه کې
جنينونه په خاوره ولېدل
تا خو له سره دي هېر کړي،
چې څومره ودانۍ ړنګې پر سرو شوې
تا خو له سره دي هېر کړي،
چې څومره قرآنونه په اور کې سوځېدلي
تا خو له سره دي هېر کړي،
چې دوی خپله جنډه
د هېواد د څيرې بيرغ پر ځای ورپوله
تا خو له سره دي هېر کړي،
چې په **حيفا** او په **يافا** او **بئرالسبع** کې
هره ونه شوه خلکو له صليب

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو خلکو لپاره،
چې تا له سره هېره کړي،
چې ستا له نسله وو
**قدس**، اوس په وینو ډوب
خو ته ډوب په شهوتونو کې
داسې آرامه ته بیده یې
ګنې دې ناورین له تا سره
کوم تړاو هم نه لرو
ته به څه وختې پوهېږې؟
څه وخت به دې ذات کې
انسان راویښېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## له شعره څه ګټه؟

له شعره څه ګټه
که ونکړای شي،
پاڅون اعلام کړي؟
که ونکړای شي،
زورواکان له منځه ویسي؟

له شعر څه ګټه
که ونکړای شي،
اورشیندونکي
بلوا ته ولسموي،
کله چې اړتیا ورله لرو؟

د شعر څه ګټه،
که تاجونه،
د دې نړۍ د ځواکمنو شاهانو
له سرونو وانخلي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ډبر ویشتونکي ماشومان

نړۍ ده حیرانه،
سره له دې،
چې لاسو کې یې یوازې دي ډبرې
خو ډیوه یې ده روښانه تروږمۍ کې
زېرې ورکړی
مقاومت یې کړی
منفجر د بم په شان دي
شهیدان دي
خو موږه د قطبی یږو په شان
چې د تودخې وړاندې یې پوستکي،
مصونیت موندلی وي -
لا کنګل یوو.

زموږ پر ځای وجنګېدل،
تر هغو چې په خاورو ولوېدل
خو موږ بېغمه ناست قهوه خانو کې
قهوه مو څښله په مزه مزه
دا یو لالهانده سوداګرۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا بل کړي،
د نورو یو میلیارد ډالرو لټه
بل د څلورم واده او د مرمرینو سینو په هڅه
یو په لندن کې،
گرځي اسمانځکو ماڼیو پسې
بل سرگردانه د وسلو سوداگرۍ پسې
یو په ډیسکو کې له خپل سیاله غچ اخلي
بل د پوځ او حکومت
د تاج او تخت په لټه.

آه...
ای د خیانتونو نسله
ای د پیسه پالنې نسله
ای وزگاره نسله
ای هرځایي نسله
که تاریخ څومره هم پخ درومي
یو ورځ به ډبر ویشتونکي ماشومان
په تا
غوبل
جوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ستاسې په هېواد کې ولې څوک نه خاندي؟

گرانه ملگريه!
چې په سترگو دې
تراژيدي، وير او غربت لولم
موږ يوو هغه خلک،
چې په ښادۍ نه پوهېږو!
ماشومانو مو لا
د بوډۍ ټال نه دی ليدلی
دلته هغه هېواد دی،
چې خپلې دروازې يې دي تړلي
اند او احساس يې لغوه کړي!
هغه هېواد،
چې په کوترو ډزې کوي
په وريځو، جرسونو ډزې کوي
دلته مارغه د الوتلو پروا نلري
او شاعر
د شعر له ويلو ډار نلري!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته هغه هېواد دی،
چې د تللو لپاره لار نلري
ان مچ له الوتلو ډارېږي
او د شعر شپه نه جوړېږي!

دلته هغه هېواد دی،
چې نیمایي یې دی پنډغالی
نیمایي نور یې ساتونکي
د یو او بل له مېرمنو سره
مړو دی واده کړی
مالومه نه ده
خلک یې چېرې تلي!

فرانسوی زېړسرې سپلانۍ راته وایي
ستاسې هېواد تر ټولو ښایسته هېواد دی،
چې تر اوسه ما لیدلی
دلته،
باران خاندي
ګلان خاندي
الوچې او انار خاندي
یاسمن ګلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځوړند له دېوالونو
خو ستاسې په هېواد کې
بيا ولې څوک نه خاندي؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پوښتنه**

ما مه پوښته،
چې څنګه يم؟
که په رښتيا يم درله ګران...
ما وپوښته
ګوتې دې څنګه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مني مارغان راته ګران دي

خوښېږې مې
کله
ناکله
د ورځې لخوا ورک شم
په شان د مني د مارغانو
یو وطن وموم:
نوې وطن
پرته له ټاټوبه
پرته له خدایه،
چې ومې نه ځاري
داسې ټاټوبی،
چې له ما سره
دښمني ونکړي.

غواړم وتښتم
له خپل پوستکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خپل آوازه
له خپلې ژبې
غواړم وتښتم
د باغونو د وږمې په شان
غواړم وتښتم
له خپل سیورې
له خپلې نښې
غواړم وتښتم
د خرافاتو او مارانو له ختیځه
له خلفاؤو
له پاچایانو.

غواړم مینه وکړم
د مني د مارغانو په شان
ای د چړو
ای د زندۍ ختیځه
ای امیرانو
ای پاچایانو
غواړم مینه وکړم
د مني د مارغانو په شان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای د چړو،
ای د زندۍ ختیځه
ای امیرانو
ای پاچایانو
غواړم مینه وکړم
د مني د مارغانو په شان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ورځ به شي!

ورځ به شي
ته به راته پکې ګرانه يې
ورځ به شي
اندېښنه مه کوه،
چې پسرلی دی ځنډېدلی
وېرجنه مه اوسه
که باران دی ودرېدلی
هرومرو به رنګ بدل شي د اسمان
سپوږمۍ به راستانه شي
خپل مدار ته
ورځ به شي
بيا به ورځ شي!
هغه ورځ به پوه شم،
چې تمدن ولې ښځينه دی
شعر ولې ښځينه دی
عاشقانه ليکونه ولې ښځينه دي
ښځې کله چې مينېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې
په مرغۍ
په رڼا
په اور
بدلېږي!

ورځ به شي
د بدويت جامې ګوځارم،
چې دې خبرو اترو آر زده کړم!

ورځ به شي
هغه ورځ
زه د خپل انحطاط دوره خوشې كووم
تا ته ښكلي كليمات ليكم
د كليمو له بريدونو تېرېږم
د كلام شيشه ماتوم!

ورځ به شي
هغه ورځ مې احساسات رهبري كوومه
د غرور سر مې پرې كوومه
د قبيله اى تعصب ميراث مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دننه پرېمنځمه
او د پاچایانو پر ضد
راپاڅېږم.

ورځ به شي
سرتېري مې رخصتوم
آسونه مې خوشې کووم
فتوحاتو ته مې د پای ټکی ږدم
او خلکو ته اعلاموم:
ستا د سترګو ساحل ته رسېدل
ده بریا
له ټولو
ستره!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د بلقيس* په ويښتو کې دولس سره ګلان

۱

هغه پوهېده، چې ما به ووژني
زه پوهېدم، چې هغه به ووژل شي
وړاندويني،
دواړه سمې وختلې
هغه لکه پتنګې
د جهالت د پېر پر ويجاړو ولېده
او زه د هغه عصر د غاښو تر مينځ
چې شعر
د ښځې سترګې
او سور ګل د آزادۍ
له ستونې تېروي
درې ورې شوم.

---

*بلقيس الراوي د نزار قباني مېرمن وه. هغه د ۱۹۸۱ کال د دسمبر د پنځلسمې نېټې په انتحاري برید کې، چې په بیروت کې د عراق پر سفارت تر سره شو، له ٦١ نورو کسانو سره ووژل شوه. دا برید الدعوه اسلامي ډلې، چې د ایران د آخوندي رژیم ننګه یې له ځان سره لرله ، تر سره کړ. پ.ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲**

پوهېدم،

چې هغه به ووژل شي

هغه،

د خچنتیا په پېر کې ښایسته وه

د کرغېړنتیا په پېر کې رڼه وه

د انسان وژونکو په پېر کې

یوه انسانه

د شینکۍ په مینځ کې نایابه لعله

د بې شمېره مصنوعي ښځو په مینځ کې

یوه اصیله!

**۳**

پوهېدم،

چې هغه به ووژل شي

ځکه روښانه یې وې سترګې

د یاقوت د دوه سیندونو په څېر

وینښته یې اوږده

د بغداد د شپو په څېر

دې ټاټوبي

دې ټولې زرغونتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زرګونو خرماوو انځورونو
د بلقیس په لېمو کې
تاب
رانه وړ.

**۴**

پوهېدم;
چې هغه به ووژل شي
ځکه،
چې د غرور لوربنود یې
د ټاپووزمې له لوربنوده خورا لوی و
پرتم،
پرې نښوه،
چې د انحطاط په پېر کې ژوند وکړي
ځلانده اروا یې پرې نه ښوده،
چې په ترږمو کې ژوند وکړي.

**۵**

هسک غرور
نړۍ ورله کوچنې کړې وه
بکس یې وتاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورو ورو
د پښو د ګوتو په څوکو،
بې له کومې خبرې
نرۍ يې پرېښوده.

**٦**

له دې، نه ډارېده
چې مورنی ټاتوبی يې ووژني
ډار يې دا و،
چې مورنی ټاتوبی به يې ځان ووژني!

**٧**

د شعر د بډايه ورېځو په څېر
زما پر کتابچو يې وبهول:
شراب
ګبين
توتکۍ
سره ياقوت
زما پر احساس يې وشيندل:
بادبانونه
مرغان

(c) ketabton.com: The Digital Library

او له نهيلۍ ډکې شپې...

له تللو وروسته يې
د اوبو پېر پای ته ورسېده
او د تندې پېر پيل شو.

۸

تل مې د تللو په حال احساسوله
په سترګو کې يې بادبانونه
تل چمتو د تګ په حال کې
پر بڼو يې متحرکه الوتکه
د هسکېدلو په حال کې
په لاسي بکس کې يې
زموږ د واده په لومړنۍ ورځ
يو پاسپورت
د الوتکې ټکټ
او د هغو ټاټوبو ويزې،
چې هېڅکله يې ليدلي نه وو
يو وخت مې وپوښته،
دا ټول کاغذونه
ولې په بکس کې ساتې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويې ويل:
له سرې زرغونې څخه مې
د ليدلو وخت اخيستی.

**۹**

کله چې د هغې بکس يې
ويجاړيو له مينځه راکړ
ما يې
پاسپورت
د الوتکې ټکټ
او ويزې وليدلې
پوه شوم،
چې ما له بلقيس الراوي سره واده کړی نه و
زه د سرې زرغونې مېړه وم...

**۱۰**

کله چې ښايسته ښځه مري
د ځمکې تعادل له لاسه ځي
سپوږمۍ سل کلن عمومي وير اعلاموي
او شعر
بې کاره کېږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۱**

بلقیس الراوي
بلقیس الراوي
بلقیس الراوي
د هغې د نوم آهنګ و په ما ګران
په کراتو مې د شونډې پر سر تکراراوه
د هغې د نامه په څنګ کې
غبرګولو د خپل نوم
سخت ډارولم
لکه د رڼې ویالې خړول
یا د یوه ښایسته سمفوني ګډوډېدل.

**۱۲**

دې مېرمن
نباید ډېر ژوند کړی وای
دې پخپله
هم نه غوښتل
هغه وه،
د شمعې د یوې لمبې په څېر
د بلینډې د یوې شغلې په څېر
د شاعرانه یوې شیبې په څېر،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د وروستۍ کرښې د مخه
انفجار کوي....

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یوازې مینه بریالۍ ده

سره له دې،
چې بړبکۍ زما په سترګو کې
ځګیږي
سره له دې،
چې غم ستا په سترګو کې
بیدیږي
سره له دې،
چې دې روزګار کې
پر ښکلا کوي ډزې
هر چېرې چې وي
پر عدالت غوښتلو کوي ډزې
هر چېرې چې وي
پر اند کوي ډزې
هر چېرې چې وي
خو زه وایم:
یوازې مینه بریالۍ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې مینه بریالۍ ده
په زړهاو ځله وایم:
یوازې مینه بریالۍ ده

د وچېدلو، مړاوېدلو په وړاندې
هېڅ پناه او پټنځای نشته
له مهربانۍ ونې پرته

سره له رنګېدلي دې دورانه
سره له دې دورانه،
چې لیکوالي وژني
لیکوالان وژني
او
پر کوترو
پر سرو ګلونو
پر بوټو ډزې کوي
او ښایسته شعرونه
د سپیو په هډېره کې ښخوي
خو زه وایم:
یوازې فکر بریالی دی
یوازې فکر بریالی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زړهاو ځله وایم:
یوازې فکر بریالی دی

ښایسته خبره هېڅکله نه مري
نه په کومه توره
نه په کوم زندان
نه په کوم دوران

ګرانې!
له هغو ټولو کسانو سره سره،
چې ستا سترګې یې محاصره کړي
زرغونتیا سېزي
ونې سېزي
له هغو ټولو کسانو سره سره،
چې ښکلې معشوقې یې بندي کړي
خو زه وایم:
یوازې سور ګل بریالی دی
یوازې سور ګل بریالی دی

ګرانې!
له هغو ټولو وچېدلو سره سره،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې اروا کې مو دي
له هغو ټولو مړاوېدلو سره سره،
چې اروا کې مو دي
د ورېځو د کموالي سره سره
د باران د کموالي سره سره
يوازې اوبه بريالې دي
يوازې غوټۍ بريالې دي
له هغې ټولې شپې سره سره،
چې يې سترګې رادرنې دي
بې له شکه
ورځ بريالۍ ده.

په داسې روزګار کې،
چې زړه په لرګين لوښي بدل شوی
په کې شعر په لرګين قالب اوښتی
د بې مينې
د بې هيلې
او د بې سيندې
په روزګار کې
د پاڼو
د قلمونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکتابونو د استعفی په روزګار کې
خو زه وایم:
یوازې سینه بریالۍ ده
یوازې سینه بریالۍ ده
په زرهاو ځله وایم:
یوازې سینه بریالۍ ده

د تېلو او ګازو له دوران وروسته
بې له شکه،
طلا بریالۍ ده

سره له دې روزګاره،
چې په کړاونو
په اپینو
په اعتیاد کې
ډوب شوی
سره له دې دورانه،
چې انځور نور د خوښې وړ نه دی
تابلو څوک نه خوښوي
عطرونه د چا خوښ نه دي
رنګونه د چا خوښ نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره له دې دورانه،
چې له خدای پرستۍ تښتي
د شيطان پرستۍ په لور
سره له هغو کسانو،
چې يې ژوندون رانه تالا کړ
له جيبه يې وطن رانه تالا کړ
له زرګونو جاسوسانو سره سره،
چې په دېوالونو مهندسانو
طرحه کړي
ځای پر ځای کړي
له زرګونو راپورونو سره سره،
چې موږکان يې موږکانو ته ليکي
خو زه وايم:
يوازې ولس بريالی دی
يوازې ولس بريالی دی
په زرهاو ځله وايم:
يوازې ولس بريالی دی
ولس برخليک جوړوي
ولس
پوه
بريال دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بیروت سوځي او ته راته گرانه يې

۱

کله چې بیروت سوزېده
او اور وژونکو يې سره کالي
وېنځل
او هڅه يې کوله،
چې پر کتارو ناستې مرغۍ آزادې کړي
ما په واټونو کې پښې ييله
په سوزونکو اورونو
په رنگو ستنو
د شیشو پر ماتو ټوټو
منډه وهله
په داسې یو حالت کې،
د لمبو په نڅا کې
ستا څېره مې،
چې د بندي کوترې په شان وه،
لټوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هره بیه مې غوښتل
بل بیروت وژغورم
هغه بیروت،
چې یوازې ستا مال و
زما مال و...
هماغه بیروت،
چې ته او زه یې
په یوه وخت وزېږولو
او له یوه تي یې شیدې راکړې
هغه بیروت،
چې موږ یې **یدریا** ښوونځي ته ولېږولو
او هلته مو له کوچنیو کبانو
د سفر لمړي درسونه
د میني لمړي درسونه
زده کړل
هماغه بیروت،
چې د ښوونځي په بکسو کې
مو له ځان سره وړو
د ډوډۍ په قطرو کې
د کونځلو په خوږو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هماغه بیروت،
چې د جوارو په بوټلو کې مو اېښود
هماغه،
چې د عشق بازۍ
په لويو شپېو کې مو
ستا بیروت
زما بیروت
نوماوه.

**۲**

کله،
چې وطن له وطنه تښتېده
او ماښومان د بیروت نړیوال هوايي ډګر کې
د خپلو لوبو پر شیانو وو بیده
کله،
چې پلرونو د اوښکو
ډک بکسونه وزنول
او مجبور وو،
هر اضافي کیلو اوښکو
او
هر اضافي کیلو غم لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

جريمه ورکړي

کله،

چې وطن لاسونه پر څېره

کېښودل او ژړل يې

او د مني وريځې

چې د يونان له ټاپوګانو

راتللې

چې لبنان ساحلونو ته نژدې شي

د **قناصه** د مردکيو د لګېدلو له ډاره

ډارېدلې

کله،

چې واټو کې څراغونه

له ډاره رپېدل

او د کلکو قهوه خانو

سايبانونه

خوريدل راخوريدل

او سهارنيو مرغانو

خپل بچي پر څانګونو اېښودل

کوچېدل

کله،

چې وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وطن

ټوټې ټوټې کولو
زه له جنایته ډکوسوه متره لیرې
قاتلان مې لیدل
دوی له بیروت سره
د یوې مینځې په شان جماع کوله:
وار په وار
یو په یو
د قبیله ای تړون له مخې
د قومي امتیازاتو له مخې
د پوځي درجو له مخې

زه یوازینی شاهد نه وم،
چې زرګونه ځلانده چاړې مې
د لمر د رڼا لاندې کتلې
او زرګونه مزدوران مې کتل،
چې د هغې مېرمن د جسده ګردچاپېره،
چې سوزېدله
مستې مستانه نڅېدل

خو زه یوازینی شاعر وم،
چې پوه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې د بیروت د سیند نوم
له سپینه
په سره سیند باندې بدل شو.

**۳**

کله،
چې بیروت سوزېده
او هر څوک وو په دې فکر،
چې پاتې شخصي شتمني وژغوري
ناڅاپه راپه یاد شول،
چې ته لا هم زما معشوقه یې
ته مې هغه لویه شتمني یې
چې هېڅکله مې نه ده ښکاره کړې
او ناچار یم
که ژوند کومه چاره راپرې نه ږدي
خپل ګډ میراث
خپله عاطفي شتمني وژغورم
په دې زړه پورې ښار کې،
چې یوه ورځ
رازداره صندوق و،
چې خپلې کوچنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپماوې مو په کې پټولې
پټې نقاشیانې
زما لپاره
ستا لپاره
پټ انځورونه،
چې هېڅکله چا لیدلي نه دي
د هغو شعرونو طرحې،
چې په پنسل مې درلیکلې
او هېڅوک ترې خبر نه دي
کتابونه
ډېر لیکنې
استوانې
د سرامیک قابونه
پستکارتونه
کیلي بندونه،
چې پرې د نړۍ په ټولو ژبو
لیکل شوي:
راته گرانه یې!
سیمه ایزې نانځکې،
چې وې د میني نښې
او تا له ځان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

له یونانه، له بالکانه

له مراکشه، له فلورانسه

له سنګاپوره، له تایلنده

له شیرازه، له نینواه

له ازبکستانه

وې راوړې

له سرو وریښمو جوړ شال،

چې تا ته مې ډالۍ و

هغه ورځ چې له اسپانیا نه زه راستون شوم

او تا اچولی پر اوږ و

پوه شوم...

چې ولې **طارق بن زیاد**

**اندلس** ته د ننوتلو لپاره جنګېده

پوه شوم،

چې زه جنګېدمه ولې

او لا هم جنګیږم،

چې ستا د سترګو د اوبو برید ته

ورکړل شي اجازه زما د بېړیو

ننوتو ته

**۴**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیروت،

چې کله د **بیزانسي** شمعدانیو په څېر

چې د طلا په اوبو ښکلې وې،

ړنګېدو

کله چې جوپه جوپه خلکو

خپل ویر په یو ډول تعبیراوه

خپلې اوښکې یې په یو ډول توېولې

زه د خپل خصوصي ویر په لټون وم

او هغه ښځه،

چې هېڅوک یې په شان نه وو

هغه ښار،

چې بېلګه یې نلرله

هغه شعرونه،

چې د سړیو د لیکنو تر منځ،

چې د میني په اړه یې لیکي

بې ساري وو

کله چې ښځو ویر

د هغو ټوکرو له ګزو سره مېچل،

چې سوزېدل

د خپلو لاسي بکسونو،

چېنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او له غاړکۍ سره یې اتکلول

او په دې رویا وو،

چې خوندي یې له سوزېدو کړي

کله چې سړو خپل تاوان

د بانکي حسابونو له سپما سره محاسبه کول

زه وم ناست د ډبرې پر تختې،

چې وه د اوښکو د یوې څاڅکې په څېر

خپل تاوان مې شمېره

د هغو قهوې د پیالو له شمېرو سره،

چې څښلې مې شوای

د هغو پوښتنو له شمېرو سره،

چې پوښتلې مې شوای

لاسونه به مې

ستا لاسو کې وای

که بیروت چېرې سوزېدلی نه وای.

**۵**

مهمه راته نه وه،

چې بیده وی

یا ویښه...

مهمه راته نه وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې بشپړه بربنډه وی
که نیمه...
مهمه راته نه وه،
چې پوه شمه څوک دې
دی همخونې
یا څوک دې همبستر دی
ټولې دا خبرې وې وړې
خو لویه خبره
دا کشف و،
چې تل وې راته گرانه
ته تل د نیلوفر د گل په څېر
لامبوزنه زما د ذهن په اوبو کې
د گوتو تر منځه می زرغونېږی
د تاریخي کلیسا د ډبرو له منځه
د وښو د شنه کېدو په څېر
مهمه راته نه وه،
چې څوک اوس په تا گران دی
اوس په څه فکر کوی ته
په دې اړه کوو خبرې وروسته
اوسنی برخلیک جوړونکې خبره دا ده،
چې ته یې په ما گرانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او
زه
ځان
د نړۍ تر ټولو دوو ښایسته یاسمن ګلونو
ستا
او
بیروت
د ملاتړ مسوول ګڼم.

٦

پر ما مه کوه نیوکه،
چې په زور او ناڅاپي
دې خونې ته شوم ننه
هر ډول جامې چې اغوستی شې
واغونده
ما مه پوښته چې ولې؟
هلته بهر سوزي بیروت
هلته بهر سوزی زموږ بیروت
ته سره له ټولې ناپوهۍ
سره له دې بې درناوۍ
لا هم یې په ما ګرانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلی یمه گوره،
چې د کوچنۍ پیشۍ په څېر دې
پر اوږې راواړومه
د مرگ
اور
او
لېونتوب
له ببرۍ دې رابهر کړم
څکه،
زه د ښکلو پیشوگانو
د ښکلو سترگو
د خپلو ښایسته ښارونو
د سوزېدلو مخالف یم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اوربند

شعر کې
د اوربند
یا د اوږي رخصتۍ
یا ضروري رخصتۍ
او یا هم
د اداري رخصتۍ
په نامه
څه نشته
ډګر کې باید ووسئ حاضر
تر وروستي څاڅکي د وینو
یا دا،
چې په ګونډو شی
او
په خنده شې
له لوبې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## له کلیمې پرته

دلته پاتې نوره لاره چاره نشته
له کلیمې پرته
کومه سینه د شیدو د ورکړې نشته
له کلیمې پرته
کوم هیواد،
چې مې ملاتړ وکړي نشته
له کلیمې پرته
بله ښځه مې په تېره کې نشته
له کلیمې پرته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د رسمولو درس

**۱**

زوي مې خپلې اوبرنگې رنګې راوړې،
زما مخې ته يې بړدي
رانه غواړي،
چې مرغۍ کړم ورله رسم
برس په خړ رنګ کې خړوبوم
مربعه انځورم
سره له يوه قلفه
سره له ځو ميلو
زوي مې اريانتيا کې راته وايي:
دا خو زندان دی
پلاره!
مرغۍ نشې رسمولای؟
ورله وايم:
زويه!
وبخښه
د مرغيو بڼه مې تللې ده له ياده!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲**

زوي مې رنګې خپلې
زما مخې ته بږدي
رانه غواړي،
چې سیند رسم کړم
اخلمه پنسل
توره یوه دایره رسموم
راته وایي
دا خو توره یوه دایره ده
پلاره!
سیند نشې رسمولی ؟
لا نه پوهیږی،
چې د سیند رنګ شین دی؟
ورته وایم:
زویه!
د سیند رسمولو کې تکړه وم یو وختې
خو نن یې
د کب نیولو لومه
او جاله رانه اخیستې
شنه رنګ سره له خبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د آزادۍ د ماهي له ښکاره يې
منعه کړی يم!

**۳**

زوي مې د رسامۍ کتابچه مخې ته ږدي
رانه غواړي،
چې رسم ورله يو وړی د غنم کړم
اخلمه قلم
يو ټوپک رسمومه
زوی وهي پرما ملنډې،
چې د رسامۍ هنر کې يم کمزورې
په حيرانۍ راته وايي:
پلاره!
نه پوهېږی،
چې د ټوپک او د غنمو د وږې څه توپير دی؟
ورته وايم:
زويه!
پخوا مې د غنمو د وږي، ډوډۍ او ګلانو شکلونه پېژندل
خو دې اوسپني پېر کې،
چې د ځنګل ونې هم
له وسلوالو سره يو شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

گلونو پوځي جامې اغوستي
د وسلوال وړي په پېر کې
د وسلوالو مرغانو په پېر کې
د وسله واله دين په پېر کې
ډوډۍ نه پېرم،
مګر دا چې په کې و موندم يو ټوپک
ګل له کروندې نه راشکومه،
مګر دا چې راته ونيسي مخې ته وسله
خپله
نه پېرم کتاب له کتابتونه،
مګر دا چې په منځ د ګوتو کې مې شي
منفجر...

**۴**

زوي مې د کټ پر څنډه راته کښېني
رانه غواړي،
چې يو شعر ورله بيان کړم
يوه اوښکه شي راتويه پر بالښت
په حيرانۍ يې راخلي
راته وايي:
دا خو اوښکه ده پلاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه شعر

ورله وايم:
زویه!
کله چې لوی شوی
او د عربي شعر ديوان دې ولوست
پوه به شی په دې،
چې اوښکه او شعر دي سره خويندې
او عربي شعر هم پرته له هغې اوښکې،
چې گوتو له مینځه راوځي
بل څه نه دي

۵

زوي مې پنسلونه او رنگې مخې ته ږدي
رانه غواړي،
چې وطن کړمه
زه رسم
برس مې رپي په لاسو
اوښکي راتويږي پر ليمو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وطن

ته يې راته ګران،
چې له خدای،
له ځمکې،
له تاريخ،
له مهال سره
له اوبو،
له کروندې،
له خندانه ماشومانو سره
له ډوډۍ،
له سيند،
له صدف،
له بېړيو سره
د شپې له ستوري سره،
چې بنګړي خپل رابخښي
له شعر سره،
چې يمه په کې مېشت

(c) ketabton.com: The Digital Library

له تپ سره،

چې په ما کې ژوند کوينه

اړيکه ولرم!

ته هغه وطن يې،

چې نورو له پېژاند وربخښی

پر چا چې نه يې ګران

بې وطنه دی هغه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ليکم

ليکم،

چې شيان کړم منفجر

ليکل چاودنه ده

ليکم،

چې رڼا پر تروږمۍ کړمه برياله

ليکم،

چې ما او شعر

بريا ته ورسوم

ليکم،

چې د غنمو وږي يې ولولي

چې ونې يې ولولي

ليکم،

چې سور گل ما وپيژني

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ستوري، مرغۍ
پیشو، کب او صدف
ما وپېژني

لیکم،
چې نړۍ د هلاکو له غابښونو
د پوځیانو له حکومته
د لنډه غرو له لېونتوبه
آزاده کړم.

لیکم،
چې ښځې
د ستم له تورو تمبو
له مړو ښارونو
د مریيتوب له ولایتونو
له ستومانو ورځو
له سرخته
له تکراره
آزادې کړم.

لیکم،
چې کلیمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له تفتیشه
د سپو له بویولو
او د سانسور له چړو
آزادې کړم.

لیکم،
هغه مېرمن،
په ما گرانه مېرمن
له بې شعره
او بې میني ښاره
له ویره، له خپگانه
آزاده کړم

لیکم،
چې ترې جوړې کړم اوبلنې وریځې
یوازې مېرمنې
یوازې لیکنې
موږ له مرگه ژغورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شعر یاران

د اور یمه زه ونه
د هیلې یمه رویبار
د پنځوسو میلیونو
مینانو
ویاند
آرامېږي مې په غېږه کې
ویرجن
جوړوم ورله کله کوتره
کله هم د نهیلۍ یو بوټۍ
ملګرو
زه یم هغه ټپ،
چې یې ونه منله
هیڅکله
د چړې واکمني!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ویر ماشومان

د ویر داسې ماشومان شته،
چې لوی به شي...
د پاېنده درد داسې ماشومان شته،
چې لوی به شي...
هغوی،
چې وژل شوي فلسطین کې
داسې ماشومان لري،
چې لوی به شي...
د خاورو، د کوڅو، د دروازو
داسې ماشومان شته،
چې لوی به شي...
هغوی،
چې له دېرشو کلو راپدېخوا
د استنطاق په کوټو کې
د پولیسو په حوزو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغونډ شوي زندانو کې
هغوی،
چې د اوښکو په څېر
شوي په سترګو کې راټولې
دا ټول
به هره شېبه
د فلسطين له دروازو شي راډننه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**راته گرانه يې!**

کله مې چې وويلې تاته:
راته گرانه يې
پوهېدم،
چې قبيلې په وړاندې
کړی مې پاڅون دی
او جرس د رسوايۍ مې دی وهلی
غوښتل مې،
چې ويجاړ د ستم پلاز کړم،
چې شنه شی ځنګلونه
لابهانده شي سيندونه
او د نړۍ ټول ماشومان آزاد
شينه

د وحشت د پېر پای ما غوښتلو
د وروستي واکمن مرګ ما غوښتلو!
ستا په ګرانوالي مې غوښتل
د ټولو حرمسرايو دروازې کړمه ماتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د ښځو سينې
د سړيو له غاښو خلاصې کړمه!

کله مې چې  وويلې تا ته،
چې ته يې راته ګرانه
پوهېدم،
چې د هغه ښار لپاره
نوې الفبې ابداع کوومه،
چې څوک پکې لوستل کولای نشي
تش سالون ته لولم شعر
د هغه چا په جام کې
تويومه زه شراب،
چې يې څښلي نشي!

کله مې چې وويلې تا ته،
چې ته يې راته ګرانه
پوهېدم،
چې تل به مې وحشيان
په سانګو زهرجنو
په غشو
په ليندو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څاري
ځړوي به مې عکسونه
په ټولو دېوالونو
باندې
وېشي به مې د ګوتو نښې
په ټولو پوستو
باندې
ستره جايزه به هغه ته رسوي،
چې  وروړي مې سر
د لبناني مالتې په څېر يې
د ښار پر دروازې ځړندوي.

ستا نوم،
چې کله ما
د ګل پر پاڼو وليکو
پوهېدم،
چې خلک
مې مخې ته درېږي
متقيان او لنډه غران
مې مخې ته درېږي
چا چې په ارث نه ده وړې مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې مخې ته درېږي!

وروستی واکمن غواړم نابود کړم
ستا د مینی دولت جوړ کړم
پوهېږم،
چې دغه انقلاب کې
مرغۍ به وي یوازې
تر ځنګ
زما!

نه مې شته کوهی د تېلو،
چې وویاړمه ورباندې
معشوقې پکې ولامبوم
نه د **آقاخان** په څېر شتمن یم
نه د **اوناسیس** ټاپو،
چې په اندازه د سیند ده
زما ده.

زه شاعر یم
یوازینۍ شتمني مې
د شعرونو ټولګه
ستا ښایسته سترګې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونکی زه نه يم،
چې درزده کړمه مينه
نه کبان لري د زده کړې اړتيا
د لامبلو لپاره
نه مرغان لري د زده کړې اړتيا
د الوتلو لپاره...
ولامبه
يوازې
والوزه
يوازې
مينه
کتاب نلري
لويو مينانو د نړۍ
لوستل کولای نشول

مېرمنې، د بورژواوو پېښې پرېږده
شه تېره **شپاړسم لويي** له پلازه
شه تېره له فرانسوي عطرو
د تمساح د پوټکي
جوړ شوی کنځول پرېږده

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ما سره

د آناناس او باران ټاپو ته راشه

سرې اوبه یې د سېزانده غونډیو

ستا د تن په څېر ګرمې

تودې

راڅوندي یې کړي امونه

ستا د سینو یادونه

ای د شک او ډار مېرمنې

د **مکس فاکتور** او د **الیزابت آردن*** مېرمنې

متمدنه یې بې حده

د میني میز تر شا

له کاشوغې او پنجې سره کښېنې

خو زه صحرا کې زیږېدلی

تنده د پېړیو  مې پر شونډو

او سل میلیونه لمره

مې پراته تر کمیس لاندې!

خپه کېږه ګوره مه،

مخالف چې دې د ډوډۍ

---

* مکس فاکتور (Max Factor) د سینګاریزه لوازمو د تولید پخوانی او مشهور برنډ دی، چې په ۱۹۰۹ کال کې یې تولید پیل کړ.الیزابت آردن (Elizabeth Arden) د عطرو او سینګاریزه موادو امریکایي برنډ دی، چې په ۱۹۱۰ کال کې یې تولید پیل کړ. پ.ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوړولو له آدابو سره یمه
او د سپین دسترخان رومال
لیرې اچوم

وزیږېدم زه هغه ښار کې،
چې گران نه وو پر چا ماشومان
وزیږېدم،
د هغو خلکو په منځ کې،
چې د انسان په بې گناهۍ
اعتراف نه کوي!
د هغو خلکو په منځ کې،
چې هېڅکله یې
د گل ځانگه
او د شعر کتاب
نه دی پېرلی
له میني
له عاطفې
بې خبره
خلک!

وزیږېدم په هغه ښار کې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دېوالونه یې یخ دي
خلک یې شیشې خوري
او مري یې ماشومان په یخنۍ کې!

نه له چا بخښنه غواړم
نه مدافع وکیل غواړم،
چې مې وژغوري
له ډاروونکې ستنې
د ځنډۍ
په زرهاوو ځله ځنډې شوی یم
ورمېږ مې د پړي له کړۍ سره عادت
تن مې د اجسادو له تسکرې سره عادت
نه معذرت غواړم!
نه بخښنه!

نارې وهم
ان که وي وروستۍ نارې د ژوند
پاچا نه وم،
نه یم
د ښځو عاموژنه نه کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تیزابو په حوضو کې

زه هغه شاعر یم،
چې په لوړ آواز یې لیکي
په لوړ آواز مینېږي
هغه شین سترګې ماشوم یم،
چې د بې ماشومه ښار  پر ور
په دار دی وهل شوی!

ته ساده جامې اغوندې
**مائو*** لولې
غاړکۍ دې په غاړه
ګل دې دی ټومبلې په زلفانو
له **فرهنګي انقلاب** څخه غږېږې
د آزادۍ له بیرغ سره وهی ګام
غواړې آزادي د محصلینو
رنګېدل د دېوالونو
خو کله چې مینه کوي برید
د خپلو شنو غاښو سره

* مائوتسه تونګ د چین د انقلاب لاربنود و، چې د چین ولسي سوسیالیستي جمهوریت یې رامینځته کړ. هغه د مارکس، انګلس، لنین او ستالین تر څنګ د نړۍ د پرولتاریایي غورځنګ له لورې د پرولتاریا د رهبر په توګه یادېږي. پ. ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته رپېږې
د **مائو** عکس لوېږي پرځمکه
رپانده بیرغ دې لوېږي له لاسه
د نیا غېږې ته وړې ته
پناه
په ژړا
څنګه چې شوه هغه ناوې
ته هم ناوې کېږې!

انسان،
مدعي د آزادۍ
خو په خپله په بند کې
ان له خپلو لاسو، شونډو اوجامو سره
د خبرو اترو آزادي نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ټول شیان مري

چې کله باورونه، اندونه
یوه ښار کې راټیټېږي
او د آس د نال شانتې کږېږي
چې کله ډارن هرې وسلې سره،
چې په لاس یې لري
یو انسان ووژلای شي
او پټېږي خلک د موږکانو په شان
چې کله مو ورځپاڼه د ترحیم
په اعلانو ډکېږي
ټول شیان مري
ټول شیان بی ځانه:
اوبه
واښه
غرونه
رنګونه
کوي ونې جرړې خوشې
مهاجرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خپله ځایه تښتي جغرافیه
او مور ګورو
د انسان
پای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دا څرنګه وطن دی؟

دا څرنګه وطن دی،
چې خپلو مینانو سره
د ګزمې په شان چلند کړي
ګل د بلوا نښه ګڼي
شعر د نظام پر ضد
شپه پاڼه.

دا څرنګه وطن دی،
چې د مینې بند یې
له درسي نظامه دی
پاک کړی
دا څرنګه وطن دی،
چې شعرونه یې ملغا کړي
د ښځو سترګې یې ملغا کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آزادي

هره مرغۍ،
که وای اړمنه،
چې کورنيو چارو له وزيره
د پرواز اجازه واخلي
هر کب،
که وای اړمن
د سفر پاسپورت لپاره،
کبان،
تباه کېدل
مرغان،
نابودېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شعر سور ګل

ومې لټوئ!
له ځانه سره څه نلرم
يوازې د شعر
سور ګل
او
خپل وير

جګړې
کړي
د ګلو پاڼې
د غنمو وږي
لګدمال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بې تا وژړېدم

بې تا وژړېدم
ټوله شپه
ټوله ورځ
کلیزه دې نیولای نشم
ټول تاریخ پر تا ویرجن
له تا وروسته مې
نور
دومره ورځې
لمر لیدلی نه دی
پاتې د وربځو تر شا

ځان ته مې وبله
څمکه یخه شوې
کلونه کېږي،
چې خلکو سهار لیدلی نه دی
تر هغو چې دي اوښکې زما
څپانده به وي
دریابونه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو بانګي

زموږ په سيمه کې بانګي يو:
بې سواده،
د پټو جاسوسانو دی سرلاری
له تېري،
وژنې،
د چرسو له مستئ
له جعلکارئ
بل په هېڅ څه نه پوهېږي
جامې يې د خپل پلار هم خرڅولې
په ګرو يې ايښوده ګوتمه د خپلې ښځې
غاښونه يې غلا کول د مړو
ان.

زموږ په سيمه کې بانګي يو،
چې ټول استعداد يې د وسلې رايستل
پر کليمو دزې کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ په سيمه کې بانګي يو،
عصاب خرابه،
لېوني
هره ورځ لولي خطبه
د حاجيانو په خير
لکه مامون په تکبر ګرځي
د جومات له منبره وهي چغې
حيران مې ټول پاکۍ ته
زه يم قانون
زه يم دولت.

څنګه به ووري ژغورنده باران پر موږ ؟
څنګه شنه به غنم شي؟
څنګه به خپور خير او برکت شي؟
څنګه به راپه برخه برکت شي؟
خدای پر دې هېواد
نه چلوي حکم
حکم چلوي
بانګيان!

زموږ په هېواد کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو بانگي ځي
بل بانگي راځي
سرغړونه ده
هماغه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

**منفجرېدل...**

منکرېدلی کله شم
له هغه پتنگه،
چې په رگو کې مې لمبېږي
منعه کولای کله شم
هغه یاسمن،
چې په اوږو کې مې رازغورنېږي
پټولای کله شم
هغه عاشقانه،
چې د کمیس لاندې مې دربېږي
د دې ټولو
پټول
منعه کول
منکرېدل
یانې:
منفجرېدل...

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وطنه

وطنه
جوړه کړې يې له تا
ډارونکې ډرامه
ځارم دې
شپه په شپه
څنګه دې ووينم
که برېښنا
پرې کړي....؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غواړم و دې نیسمه غېږ کې

غواړم وکړمه له تا سره مینه
له دې وړاندې،
چې فاشیستي فرمان صادر شي
غواړم کېنم دوه دقیقې درسره
نوش یوه پیاله قهوه کړم
له دې وړاندې،
چې لېرې کړي څوکۍ
یو مخفي پولیس
مو تر پښو لاندې
غواړم و دې نیسمه غېږ کې
له دې وړاندې،
چې زنداني راته متهې کړي
بندي راته خوله کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړم و دې نيسمه د لاسو په مينځ کې
له دې وړاندې،
چې پر اوښکو
ګمرکي ماليه وي راله لګولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سویسي مرغۍ

وړې مې ورځپاڼې عربې وې،
چې یې ولولم
**ژنیو** سیندګي په غاړه
سلګونه ډارېدلې مرغۍ
په ناڅاپه وتښتېدلې،
چې پام یې شو د ورځپاڼو
عنوانو ته
خبرو ته!
ګواکې د خپلو بچیانو برخلیک نه
وډارېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غواړي ګډ شي په دریابونو

غواړي ونیسي نړۍ
خو عاجز د یو کتاب له خلاصولو
غواړي ګډ شي په دریابونو
خو یو څاڅکي اوبو سره خویېږي
ورکوي د فرهنګي انقلاب زېری،
چې سبزي یوځای
وچ
لانده
خو هوښیاري یې د کافي شاپ له دروازې،
چې پکې کښېني
د ژباړل شویو کتابو له عنوانو،
چې یوازې یې اوري
نه زیاتېږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وحشت نسلونه

مېرمنې،
ځنګه،
وغږېږم له خلاصونه؟
ځنګه،
وغږېږم د وینا له آزادۍ؟
ځنګه،
وغږېږم د میني له آزادۍ؟
ځنګه،
وغږېږم د سترګو له آزادۍ؟
د ښو له آزادۍ؟

زه مې میراث
او
د وحشت ټول نسلونه
پر اوږو وړم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وروستۍ کوتره

ته د آزادۍ په جغرافیه کې:
ټاټوبی وروستی
هېواد يې وروستی،
چې ساتې مې له ډاره،
له لوړې

ته خوشه وروستۍ
ته سپوږمۍ وروستۍ
ته کوتره وروستۍ
ته وږمځ وروستۍ
ته غوټۍ وروستۍ،
چې بوي کړی ما
ته کلیمه وروستۍ،
چې لیکلې ما
ته کتاب وروستی،
چې لوستی ما.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**غواړم مین شم...**

غواړم مین شم،
چې دنیا کړم بدله په مالتې
او لمر کړم بدل په برنجي بلیندې
غواړم مین شم،
چې کېږدم د پای ټکې
پولیسو ته، پولو ته،
بیرغو ته، ژبو ته،
رنګو ته، توکمو ته

ګرانې،
غواړم د یوې ورځې لپاره
نړۍ وڅرخوم،
چې ودان کړم جمهوریت
د احساس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ښکلی ژوند

دې جګړې،
ماشومانه پښه واخیسته له ما
د مینې په لور یې ډزې وکړې
ویې وژله
د سیند په لور یې ډزې وکړې
د لمر په لور
د کروندې او ماشومانو د کتابو په لور
دې جګړې،
ښکلی ژوند
غلا کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د جمعې خطبه

د جمعې په ورځ
خلک یې جومات ته وغوښتل
په پرتمینې خطبې کې یې وویل:
یمه د خدای له اولیاوو
یمه د خدای له غوره شویو
یمه د خدای له دوستانو
په دې ړنګېدلي ویجاړ ښار کې
په دې غمجن ښار کې
ادعا یې وکړه،
یمه د خدای شخصي استازی
یمه د خدای شخصي ویاند

اجازه شته،
چې پوښتنه وکړم:
لویه خدایه
تا ورکړې مهر او لاک او وکالت

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کښې تر ابده

پر ورمېږ د ملت...؟!

تا ورکړی دستور،

د دې ښار د ورانولو؟

تا ورکړی دستور،

د ګونګټې په څېر

د پښو لاندې زموږ د چخپيتولو؟

تا ورکړی دستور،

په ځانو دي راته جوړ

د موزو د لغتو بارانونه؟

په خولو دي راته جوړ

د موزو د لغتو بارانونه؟

که له واکمنو وپوښتو،

چې چا کړی په دې دنيا

زموږ چارو له استازی؟

راته وايي:

نه پوهېږې ای جاهلو

يمه زه د خدای له عزيزانو؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړم ووهمه کوکې:
لویه خدایه،
تا کړ د اقتصاد وزیر منصوب ؟
نو بیا ولې
رسېدلې بېوزلي تر وروستې کچې؟
نو بیا ولې
رسېدلی زغم تر وروستې کچې؟
نو بیا ولې
حالات زموږ بد شوي؟
اصلي خواړه مو د ډېران شوي؟
او ان مرغۍ نه مومي د دې ټاټوبي
په ډېران څه؟
لویه خدایه
د ډوډۍ ګرانېدل دي،
ستا امر؟
د لوبیا او د نخودو ګرانېدل دي،
ستا امر؟
د سبوو او ترشۍ ګرانېدل دي،
ستا امر؟
د مرګ د کفن ګرانېدل دي،
ستا امر؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ولې خورو موږ ځپلی
خو چارواکي خوري کبان؟
قوماندانان څښي ویسکي ولې؟
او موږ څښو ختې، چکړې ولې؟
ولې زموږ په ټاټوبي،
بېوزله انسانان
د ډوډۍ مخ
د سپوږمۍ له مخه
نشي کړای توپیر؟!
ولې ماشومان مو کوي
د میندو په نسو کې ځانوژنه؟!

غواړم لوی خدای وپوښتمه،
تا دي ورزده کړي،
چې موږ مغزي تطهیر کړي؟
مېرمنې مو کړي مینځې؟
او پر موږ شي راسپاره
پر ځای د خرو
آسونو ؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړم لويه خدای وپوښتمه،
تا دی ورکړی دستور،
چې مات مو کړي،
هډوکي،
ملا د قلمونو؟
کړي کر منعه د ګلونو په باغونو؟

غواړم لويه خدای وپوښتمه،
ورکړې شتمني ده تا،
چې د ورسا او بريتانيا ماڼۍ
د بابل معلق باغونه
او مزدورې ورځپاڼې وپېري؟
تا سپين چک ورکړی،
چې د بريتانيي تاج او ماڼۍ
د کوترو په ځېر بندې مېرمنې په قفس کې
او شنه رنګه سپوږمۍ
د نيشابور په اسمان کې
وپېري؟

غواړم لويه خدای وپوښتمه،
واقعاً يې عزيز د دوی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیا قاتل د خپل ملت
د خدای عزیز کېدای شي؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مړینه

چېرې لاړ شي
د وطن مړي ؟
چې کله ټوله شتمني
له بنفشه غوړو سره
د جمهور رئیس دخېتې، سیني او ملا
ماساژ پاره شوې وي جلا
یا د هغو لپاره چې ورکوي،
جمهور رئیس ته د شیدو کاسې
چېرې لاړ شي هغه مړي،
چې د جمهور رئیس جګړه کې
ولېدل په ځمکه
اوس د مېشته کېدو ځای نلري.

که مو مړینه وای
سترې موخې لپاره
په خندا د مرګ په لوري رهېدلم
که مو مړینه وای
د خلکو، د هېواد د آزادۍ په موخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعزتمنې يوې مېړانې
په لوري د جنت د مومنانو
له ټولو مخکې درومېدلم
خو دوی ده کړی پرېکړه،
چې موږ مړه شوو،
چې پاتې دا نظام شي
د وړو جوړې مجسمې،
پاتې ماماګان د دې نظام شي.

د میلیونونو انسانونو مړینه
پر رهبر مو نلري اغېزه
یو ویښته یې نه رپېږي

زه نه پوهېدم،
چې ظالمان لري کرکه
د شمېرولو له ماشينه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه پوهېده، چې ما به ووژني
زه پوهېدم، چې هغه به ووژل شي
وړاندوینې،
دواړه سمې وختلې
هغه لکه پتنگه
د جهالت د پیر پر وېجاړو ولوېده
او زه د هغه عصر د غابنو تر مینځ
چې شعر
د ښځې سترگې
او سور گل د ازادۍ
له ستونې تېروي
دړې وړې شوم.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**